Bail for Immigration Detainees

REFUGEE COUNCIL

Pushto

June 2009

# د ویډیویي اړیکې له لارې د ضمانت لپاره اوریدنې

دا پاڼکۍ د هغو کسانو لپاره ده چې په بریتانیا کې د کډوالي قوانینو پر بنسټ په توقیف ځایونو او بندي خانو کی ساتل کیږي. که چیرې تاسو د ضمانت لپاره اوریدنه (bail hearing) لري نو تاسو ته پکار دي چې دا پاڼکۍ ولولی، ځکه چې کیدای شي دا اوریدنه د محکمې په ځای د تصویری یا ویډیویی اړیکی له لارې ترسره شي. همدا رنګه کیدای شي دا پاڼکۍ د هغو کسانو او ادارو لپاره هم ګټوره وي چې له هغو کډوالو او پناه غوښتونکو سره چې په توقیف ځایونو کې دي، مرسته کوي.

دا پاڼکی لاندی ټکی څرګندوی:

- د تصویري یا ویډیویي اړیکې له لارې د اوریدنې معنی او دا چې اوریدنه به څه ډول پرمخ بیول کیږي
- که چیرې تاسو غواړئ چې د ضمانت لپاره اوریدنه په محکمه کې ترسره شي، تاسو څه کولی شي
- د ویډیویي اړیکې له لارې د ضمانت د اوریدنې په اړه نور معلومات څنګه ترلاسه کولی شئ
- که چیرې ستاسو د ضمانت غوښتنلیک و نه منل شي نو تاسو باید څه وکړئ او د خپل ضمانت د اوریدنې په اړه څنګه شکایت وکړئ

## مهم اصطلاحات:

د ضمانت لپاره اوریدنه هغې مرحلې یا بهیر ته ویل کیږي کله چې یو قاضي دا پریکړه کوي چې آیا تاسو باید په توقیف ځای کی پاتې شي او که پریښودل شي.
ضامن (surety) هغه کس ته ویل کیږي چې له قاضي سره د ضمانت په توګه د پیسو ژمنه کوي تر څو دا وښیي چې که تاسو په ضمانت سره پریښودل شي، دوی به دا خبره یقیني کړي چې تاسو له محکمې او د کډوالې مقاماتو (واکمنو ) سره په تماس کی یاست.

## د ویډیویي اړیکې له لارې د ضمانت لپاره اوریدنه څه ته وایي؟

دا د ضمانت لپاره داسې اوریدنې ته وایي کله چې تاسو په توقیف ځای کې وئ او د کډوالتوب قاضي او د کورنیو چارو د وزارت استازی په محکمه کې وي. تاسو به د ویډیویي کامیري له لارې له محکمې سره پۀ تړاؤ کښې وساتلی شی. د دې اوریدنې نه مقصد دا وي چې محکمه پریکړه وکړی چې ایا تاسوپه ضمانت باندی له توقیف ځای نه پریښودلی شی. که تاسو قانوني استازی لري، او یا هم ژباړن او یا ضامن، هغوی به هم په محکمه کې حاضر وي.

## زه به څه شی لیدلی او اوریدلی شم؟

Bail for Immigration Detainees (BID) is registered in England as a limited company number 3803669.
Registered address: 28 Commercial St, London, E1 6LS. Registered charity number 1077187.
Exempted by the OISC reference number N200100147

OISC No: N200100132

Community Legal Service

British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom, VAT reg no: 936 519 988

تاسو به په یوه کوټه کې کښېنولی شی چې د ټلویزیون یوه پرده به هم ولرې. د ټلویزیون په پرده باندې به تاسو قاضي، د کورنیو چارو د وزارت استازی، او (که چېرې تاسو ولری) ستاسو قانوني استازی، ژباړن او ضمانت کوونکی لیدلی او اوریدلی شی. مخکې له دې چې اوریدنه پیل شي، قاضي او یا د محکمې کارکوونکی باید له تاسو نه پوښتنه وکړي «آیا تاسو هر هغه څه چې په محکمه کې روان دی د ټلویزیون د پردې پر مخ لیدلی او اوریدلی شی؟» که چېرې تاسو نشي لیدلی یا اورېدلی، تاسو ته پکار دي چې له هغوی نه غوښتنه وکړې د ضمانت اوریدنه تر هغه پورې ودروي چې تاسو د لیدنې او اورېدنې جوګه شئ.

## زه به څه ډول خبریږم چې زما د ضمانت اوریدنه به څه وخت پیل کیږی؟

هغه لیک چې تاسو یې ترلاسه کوی (چی ستاسو د اوریدنی د خبرتیا (Notice of Hearing) په نامه نومول کیږی) او د ضمانت د اوریدنی نیټه لري هغه کښې دا هم ور کړ شوي وي چې کوم وخت به اوریدنه پیل کیږی. خو بیا هم، څرنګه چې دری قضیې د سهار د لسو بجو لپاره په مهال ویش کی نیول شوی وی او دری د ماسپښین د دوو بجو لپاره، نو ستاسو د اوریدنی د پیل کیدلو دقیق وخت کیدای شی لږ ډول وروسته وی. د توقیف ځای کارکوونکی به تاسو ور وغواړی، هر کله چې ستاسو وخت را ورسیږی.

## آیا زه به وکولای شم چې له خپل قانونی استازی سره خبری وکړم؟

که تاسو یو قانونی استازی لری، هغه به له هغه وخت نه چې ستاسو د اوریدنی د خبرتیا لیک ستاسو د ضمانت د اوریدنی د پېل کېدنې په اړه ذکر کړی دی، ۳۰ دقیقی مخکی محکمی ته ولاړ شی. مخکی له دی چې اوریدنه پیل شی، تاسو به له خپل قانونی استازی سره خبری کولو لپاره لس دقیقی وخت ولری. له قانونی استازی سره د خبرو کولو په مهال به قاضي او د کورنیو چارو د وزارت استازی په محکمه کی موجود نه وی.

## آیا زه به ژباړن ولرم او هغوی به څه کوی؟

ستاسو د ضمانت اوریدنه به په انګلیسی ژبه ترسره کېږي. که چېری تاسو ژباړن ته اړتیا لری، تاسو ته پکار دي چې د ضمانت د غوښتنلیک د فورمی (Bail Application Form ) په کارولو (چې د بی ون فورمی (B1 form) په نوم هم یادیږی) د ژباړن غوښتنه وکړی. ستاسو د ضمانت لپاره د اوریدنی په جریان کی به ستاسو ژباړن په محکمه کی وی او له تاسو سره به د ویډیویی اړیکی له لاری خبری کوي. ستاسو ژباړن باید ټول هغه څه چې د محکمې په جریان کی ویل کیږی، تاسو ته وژباړي. یوازی د هغو پوښتنو ژباړنه چې خلک یې په مخامخ توګه له تاسو نه کوی، کافی نه ده. که چېری داسی نه وی، تاسو ته پکار دي چې خپل قانونی استازی او یا هم قاضي ته په دی اړه ووایی.

## د ضمانت لپاره اوریدنه به د څومره مودی له پاره وی؟

د ضمانت لپاره اوریدنه به تر هغه وخت پوری ادامه ولری تر څو چې قاضي اړتیا ولری چې آیا ستاسو ضمانت قبول کړی او یا و نه منی. تاسو به وکړی شئ چې ټوله اوریدنه د ویډیویی اړیکی له لاری و وینی. تر څو چې په محکمه کی د ضمانت اوریدنه پای ته نه وی رسیدلی، د ویډیو اړیکه به هم ونه ودریږی. که چېری داسی پیښه وشی، تاسو کولی شی شکایت وکړی. د شکایت کولو په اړه د معلوماتو لپاره لاندی وګوری.

## زه به څنګه پوهه شم چې خپلو ضمانت کوونکو ته ووایم چې چېرته ولاړ شی؟

د اوریدنی خبرتیا لیک به تاسو ته د محکمې نوم او پته درکړی. د بیلګی په توګه، کمپس فیلډ هاوس په نیوپورټ کی له محکمی سره وصل یا تړلی دی، کوم چې په وېلز کی دی. که چېری تاسو نه پوهیږی چې ستاسو د توقیف ځای له کومی محکمی

سره وصل يا تړلی شوی دی، تاسو ته پکار دي چې د توقيف ځای له دفتر نه پوښتنه وکړی. که چېرې دا ستاسو د ضمانت کوونکو له پاره ډېر لری وی او نشی کولای هغی محکمی ته ورشی، تاسو کولای شی چې د خپل ضمانت د اوريدنی په فورمه کی د بلی محکمی غوښتنه وکړی. که چېرې تاسو په دی اړه کومه پوښتنه لری، د توقيف شويو کډوالو له پاره د ضمانت (Bail for Immigration Detainees –BID) له دفتر سره خبرې وکړی. د دوی د ټيليفون شميرې د دی سند يا لاسوند په پای کی شته دی.

## د اوريدنی پر مهال کی به له کومو اسنادو (لاسوندونو ) نه کار واخيستلی شی؟

له اوريدنی نه مخکی به تاسو دخپلی اوريدنی د خبرتيا ليک له محکمی نه ترلاسه کړی (کوم چې تاسو ته د اوريدنی د نيټی او وخت او د محکمی د نوم او پتې په اړه تاسو ته خبر درکوی) همدا رنګه تاسو به د ضمانت لنډيز (Bail Summary) د کورنيو چارو د وزارت لخوا ترلاسه کړی کوم چې د کورنيو چارو د وزارت هغه دلايل بيانوی چې تاسو ولی بايد توقيف شی. که تاسو قانونی استازی ولری، هغه/هغی ته پکار دي چې هر هغه اسناد چې دوی به په اوريدنه کی استفاده ورنه کوی، قاضي او د کورنيو چارو وزارت ته ور کړي. که تاسو قانونی استازی نه لری، او تاسو داسی اسناد په اختيار کی لری چې غواړی قاضي او د کورنيو چارو وزارت هغه ووينی، تاسو بايد تر اوريدنی مخکی هغه ورته فيکس کړی. که په دی اړه پوښتنی لری، نو له BID سره خبری وکړی.

## زه غواړم چې د خپل ضمانت د اوريدنی له پاره په محکمه کی حاضر شم، په دی اړه څه کولی شم؟

که چېرې تاسو نه غواړی چې د ضمانت اوريدنه مو د ويډيويی اړيکی له لاری ترسره شی او غواړی چې په خپله په محکمه کی حاضر شی، تاسو به اړ ياست چې د خپل ضمانت د درخواست په فورمه کی دا خبره روښانه کړی چې ولی غواړی په محکمه کی په خپله حاضر شی. تاسو به اړ ياست چې خپل دلايل وړاندی کړی چې ولی ستاسو حالات دا غوښتنه کوی چې تاسو بايد پخپله په محکمه کی حاضر شی. د بيلګی په توګه، کيدای شی تاسو کومه ځانګړی تجربه درلوده او يا هم تاسو داسی روغتيايی شرايط لری کوم چې دا ښيی چې ويډيويی اړيکه ستاسو لپاره مناسبه نه ده. محکمه به په دی اړه پريکړه کوی چې آيا ستاسو د ضمانت اوريدنه به په محکمه کی وی او که د ويډيويی اړيکی له لاری. که په دی اړه پوښتنی لری، نو له BID سره خبری وکړی.

## زه به د خپل ضمانت د منل کيدو په اړه څه ډول خبريږم؟

قاضي به تاسو ته ووايي چې که ستاسو ضمانت قبول شوی وی او يا هم ضمانت نه وی منل شوی. که چېرې د اوريدنی په پای کی قاضي تاسو ته نه وی ويلی، تاسو کولی شی ورنه وغواړی چې تاسو ته ووايي. محکمه به همدا رنګه تاسو ته توقيف ځای ته يو ليک فاکس کړی چې د قاضي پريکړه به په ليکلی ډول تاسو ته بيانوی. که چېرې ستاسو ضمانت منل شوی وی، تاسو به اړ ياست چې يوه فورمه لاسليک کړی او تاسو ته به د سفرکولو تضمين ('travel warrant') درکړی شي چې د ضمانت کوونکی تر پتې پورې ستاسو د سفر کولو پيسی در کړی شي.

## که زما د ضمانت غوښتنليک ونه منل شی نو زه بايد څه وکړم؟

که تاسو قانونی استازی لری، تاسو ته پکار دي چې له هغه/هغی سره په دی اړه خبری وکړی. که تاسو قانونی استازی نه لری، تاسو کولای شی د پوښتنی درلودلو په صورت کی له BID سره خبری وکړی.

## څنګه کولی شم د خپل ضمانت د اوريدنی په اړه شکايت وکړم؟

که چېرې تاسو غواړی د خپل ضمانت د اوريدنی د څرنګوالی په اړه شکايت وکړی، تاسو بايد د هغی محکمی له منيجر (مدير) سره، چېرې چې ستاسو د ضمانت لپاره اوريدنه سرته رسوليې شويې وی، اړيکی ونيسی. د محکمی پته په هغو ليکونو باندی



نوری پاڼکی په دی ويب سايټونو کی ترلاسه کولی شی http://languages.refugeecouncil.org.uk او www.biduk.org

موندلی شی کوم چې تاسو د خپل ضمانت د اوریدنی په اړه ترلاسه کوی. که تاسو غواړی چې د قاضي په اړه شکایت وکړی، تاسو باید په هغه محکمه کی چې ستاسو د ضمانت اوریدنه شوی وه، مشر قاضي ته شکایت وکړی. تاسو همدا رنګه کولای شی چې د خپل پارلمانی وکیل (MP) نه غوښتنه وکړی چې ستاسو په استازیتوب شکایت وکړی او یا هم د شکایت کولو په اړه د نورو معلوماتو له پاره له BID سره خبری وکړی.

## آیا د ویډیویی اړیکی له لاری د ضمانت د اوریدنی په اړه نور معلومات هم شته؟

هو. محکمه ، چې د پناه غوښتنی او کډوالتوب د محکمی (Asylum and Immigration Tribunal - AIT) په نوم هم پیژندل کیږی، یو سند (لاسوند ) برابر کړی دی چې د ویډیویی اړیکی له لاری د ضمانت اوریدنی لپاره د درخواست ورکوونکی لپاره د لارښود یاددښتونه (Applicant Guidance Notes to Bail Hearings by Video Link) نومیږی. تاسو به دا سند (لاسوند ) ستاسو د اوریدنی دخبرتیا له لیک سره یو ځای ترلاسه کړی. تاسو کولای شی د دی سند(لاسوند ) یوه کاپی د توقیف ځای په کتابتون کی هم ترلاسه کړی.

## د کډوالو کونسل (Refugee Council) او BID څوک دی او دوی ولی دا پاڼکی لیکلی ده؟

دا پاڼکی د کډوالو کونسل او د توقیف شویو کډوالو لپاره ضمانت (BID) لخوا لیکل شوی ده. د کډوالو کونسل او BID خپلواکه مرستندویه اداری دی او د کورنیو چارو د وزارت یوه برخه نه دی BID له هغو پناه غوښتونکو او کډوالو سره چې په توقیف ځایونو او زندانونو کی وي، کار کوی تر څو له هغوی سره مرسته وکړی چې له توقیف نه خلاص شی. د کډوالو کونسل کولای شي پناه غوښتونکو ته د هغوی د پناه غوښتنې د بهیر په بیلابیلو مرحلو کې مرسته او مشوره ورکړي. په دي کې هغه پناه غوښتونکي هم شامل دي چې په توقیف ځایونو کې دي او د خپلې پریښودلو په لټه کې دي. همدا راز که مناسبه وی نو کډوالو کونسل کولی شی تاسو نورو ادارو ته، د BID په ګډون، ورپیژنی.

## د نورو معلوماتو لپاره له چا سره اړیکی نیولی شم؟

که چیری تاسو په Campsfield House او یا Lindholme کی توقیف یاست، تاسو کولی شی په Oxford کی د BID له دفتر سره په دی شمیره 4536 330 845 د ټیلفون له لاری او یا په دی شمیره 4537 330 0845 د فاکس له لاری اړیکی ونیسی.

که چیری تاسو په Dover ، Colnbrook او یا Haslar کی توقیف یاست، تاسو کولی شی په Portsmouth کی د BID له دفتر سره په دی شمیره 6633 9281 023 د ټیلفون له لاری او یا په دی شمیره 1529 9282 023 د فاکس له لاری اړیکی ونیسی.

که چیری تاسو په کوم بل توقیف ځای کی توقیف یاست، تاسو کولی شی په London کی د BID له دفتر سره په دی شمیره 020 3590 7247 د ټیلفون له لاری او یا په دی شمیره 3550 7247 020 د فاکس له لاری اړیکی ونیسی.

که چیری تاسو په کوم بل توقیف ځای کی توقیف یاست، تاسو همدا راز کولی شی د کډوالو کونسل له دفتر سره د مشورې په کرښه باندې په دی شمیره 6777 7346 020 د ټیلفون له لاری اړیکی ونیسی.